شروع کوم په نامه د خدائے چې بخښونکے او مهربان دے

# اتمام حجت شوے دے !

زمونږ لۀ ټولو لويه بدقسمتي دا ده چې مونږ نن يو داسې معاشره کښې ژوند کوو چرته چې دهشت، بربريت اؤ انتهاپسندۍ ته دَ يوې سياسي نظريې حېثيت حاصل شوے دے اؤ هغه خلق چې دَ انسان ژوند ورته دَ هستۍ لۀ ټولو سپک شے ښکاري هغوي نن دَ يو فريق شکل اختستے دے - کۀ دا خبره هم داسې نۀ وه نو دَ تشدد خوښو ملګرو به ولې دَ جرګو مرکو اؤ دَ دربمګړتيا خبرې پۀ يو داسې حال کښې کولې چې تشدد ګرو دَ اولس خلاف يو غېر اعلانيه جنګ شروع کړے دے اؤ هره ورځ دَ چاودنو پۀ صورت کښې خپل منشور اعلانوي - دا خبره اوس ښېخي سر ته رسېدلې ده چې دهشت خورونکيو پښتون کُشي خپل واحد مرام ګرځولے دے - يوه ورځ داسې نۀ وي چې دَ پښتونخوا پۀ لر او بر کښې ورته دَ خوشحالۍ ورځ ووئيلې شي - امن پۀ خپله هره معنٰي اؤ هره تشريح کښې وژلے شوے دے - دنيا دَ تشدد پۀ جامه کښې ډېر تحريکونه ليدلي دي - دَ سياسي مقاصدو لۀ پاره ګوريلا اؤ چاپه مار جنګونه هم دَ تاريخ حصه دي خو ځوک هم دا نۀ شي ثابتولے چې چرته داسې هم شوي دي چې هېڅ بې هېڅه دې عام اولس پۀ نخښه کړے شي - دا کار چې هر ځوک کوي دَ هغوي واحد مقصد دا دے چې دَ اړي ګړي پۀ ذريعه دې اولس دَ سياسي نظام نه بدظنه کړي اؤ يوه داسې ټولنه دې جوړه کړي چې هغې کښې دَ جمهوريت اؤ جمهور پۀ ځائے دَ فرد واحد اجاره داري شي اؤ دَ مذهب اؤ قانون دې صرف هم هغه تشريح ومنلې شي کومه چې يو تن دَ خپلې خوښې مطابق کول غواړي - اوس هغه وخت پاتې نۀ دے چې دَ اولس دَ اقتدار پۀ سر دې دَ ځنې خلقو مذهبي تاويلاتو لۀ دَ الٰهي فرمان درجه ورکړې شي اؤ دَ فرد واحد دَ خوښې انتظام دې ومنلے شي - کۀ داسې غوښتنې کېدې نو بيا ترې هم څۀ سياسي اړخ ته توجه ګرځېدې شوه اوس خو دا هم معلومه نۀ ده چې بالاخر دَ کومې غوښتنې لۀ پاره دَ عام اولس مال اؤ ځان سره لوبې کېږي؟ آيا دې خبرې لۀ پاره چې فوځي عمليات دې بند کړے شي، لارو کوڅو کښې خلق وژل څۀ جواز لري ؟ اؤ بيا دَ رياست کارونه پۀ خپل لاس کښې اخستل ، عدالتونه جوړول اؤ خلقو نه ټېکسونه اخستل دې خبرې لۀ دعوت نۀ ورکوي چې دَ داسې عناصرو مخه دې ونيولې شي - دا سوال چې دَ يو انسان پۀ مرۍ چاړۀ راکښل دَ کومې ګناه يا جرم شرعي سزا ده؟ څۀ پۀ عقل اؤ نقل پوره ځواب لري ؟يا دَ ماشومانو سکولونه پۀ بمونو الوځول اؤ دَ ښځو د کورونو نه بهر تګ بندول کوم شريعت اعلانوي ؟ هغه خلق چې دا قسمه زورزبردستۍ له دَ قانون هومره احترام ورکوي هغوي خو دَ دې پوښتنې ځواب هم تر اوسه ونۀ کړے شو چې دوي ته دَ جهاد لۀ پاره صرف اؤ صرف پښتنه خاوره ولې غوره ښکاري؟ دَ دوي چې کوم ملګري دَ عربو اؤ منځنۍ آسيا نه راغلي دي اؤ دَ دوي کومک ورته فرضِ عېن ښکاري، دوي چرته دَ هغوي نه دا تپوس ونۀ کړو چې دَ هغوي پۀ خپلو سيمو کښې دَ جهاد ضرورت څومره دے؟ دَ تشدد خوښونکيو چې کوم ملګري دَ نورو ملکونو نۀ راغلي دي اؤ دوي سره تکنيکي اؤ مالي طور ملګري شوي دي هغه خلق چې شېخان بللي کېږي هغوي چرته پۀ دې خبره چا پوښتلي دي چې دَ هغوي خپلو ملکونو کښې شريعت تر کومه حده عملي شوے دے- دا پۀ پښتنه خاوره چې دَ وينو اؤ اوښکو کوم باران خپل اؤ پردي ټول پۀ يوه نام نهاده مقدسه جذبه کوي دا اصل کښې دَ پښتون قوم تاريخ اؤ سياست بدلول غواړي - دوي پښتنو نه دا هېرول غواړي چې دَ هغوي پلرونو اؤ نيکونو يوه داسې ټولنه جوړه کړې وه چې هغې لۀ ټولو زيات پۀ امن اؤ رواداري بنياد لرلو - پښتنانۀ دَ جرګو اؤ مرکو خلق دي - دلته هره مسئله دَ خبرو اترو پۀ لار هوارېږي خو دغه خلقو برناحقه دَ بې ګناه بې خطا خلقو پۀ وژلو دا لاره پخپله بنده کړه اوس چې دَ دوي پۀ طريقه دوي سره حساب کېږي نو دَ دوي ملګرو ته دا خبره دَ انصاف دَ تقاضو پۀ ضد ښکاري - مونږ پۀ هم دغه کالمونو کښې دا خبره مخکښې هم کړې وه چې تشدد خوښو سره دَ خبرو اترو حتي الامکان کوشش دَ عوامي نېشنل پارټۍ مشرانو کړے دے اؤ پۀ دغه خبرو اترو دَ قومي اؤ بېن الاقوامي پرېس دَ تنقيد غشي ئې هم زغملي دي خو صرف دې مقصد لۀ پاره چې دَ امن کوششونه دې پۀ پر امنه طريقه وشي خو متاسفاً هغه موقعو ته دَ قدر نظر ونۀ شو اوس خبره دَ خبرو نۀ ده، اتمام حجت شوے دے اؤ دا کومې چاودنې چې کېږي دا دې خبرې لۀ تقويت ورکوي چې حکومت دَ خپلو عوامو دَ سر ساتلو لۀ پاره چې کومې هلې ځلې دَ عملياتو پۀ شکل کښې شروع کړي دي هغه يوائېنۍ لاره ده - داسې جرائم پېشه چې جرائم ئې صرف پېشه نا بلکې شوق اؤ جذبه هم وي هغوي سره دَ مذاکراتو جواز دَ کومې قاعدې لاندې جوړېږي ؟يقيناً چې دا سوال ځواب غواړي - حقيقت دا دے چې دَ دې سوالونو هېڅ ځواب نشته بلکې اوس دَ اولس پۀ مرۍ غلي کېدونکيو لاسونو دَ ماتولو نۀ بغېر بله هېڅ لاره پاتې نۀ شوه اؤ دا خبره خو دَ هر څۀ نۀ زيات دَ ياد ساتلو وړ ده چې مذاکرات دَ جرم اؤ قانون شکنۍ پۀ شوق کښې مبتلا ډلې سره نۀ کېږي - دې حال کښې چې اوس هم ځوک دا غواړي چې دهشت ګردو سره دې دَ اولس محترم استاځي يوه جرګه کښې کښېني هغوي اصل کښې دَ هغه جرم دَ کميت اؤ اهميت نه منکر دي چې کوم تشدد خوښو دَ عامو خلقو پۀ وژلو کړے دے اؤ يا دوي دَ اولس قاتلانو لۀ خپل زړۀ کښې څۀ نرمه ګوښه ضرور لري - مونږ پۀ ډېره ذمه وارۍ دا خبره کوو چې پۀ مورچه کښې ناستو خلقو سره جرګې نۀ کېږي اؤ بيا مونږ دَ خپلو

میاندو ، خوښندو ، بچو اؤ مشرانو قاتلانو نۀ جرگه منو اؤ نۀ ننواتے - دَ اسفندیار ولي خان دا وینا چې دا دَ قوم دَ بقا جنګ دے هسې یو اخباري بیان نۀ دے بلکې دَ یو منشور اعلان دے - دَ قومي بقا پۀ جنګ کښې به نرمي پۀ اصل کښې قوم سره دَ غدارۍ برابره وي اؤ مونږ پۀ مشرتابۀ یقین لرو چې هم دَ هغوي مشرۍ کښې به مونږ دغه جنګ کښې بریالي کېږو ځکه چې بېلات خو هډو اپشن نۀ دے -

## افغـانسـتـان کښـې دَ جـمـهـور دَ واکـمـنـۍ دوېـم دور

دَ افغـانسـتـان دَ اولس مشرۍ ټاکنو دې ځل چې کوم جمهوري روایات قائم کړي دي هغه دَ جمهوري تجربې سره نوي اشنا شوي ملک دَ دروند اؤ تاریخي ملت دَ پیاوړتیا یو لوئے ثبوت دے - یو طرف ته کۀ دَ ټاکنو نتیجې دَ امن اؤ دَ سولې دَ کړنلار تائید وکړو نو بل اړخ ته دَ انتخابي نتیجو تنازعې یو ډېر جمهوري انداز واخست - یو داسې ملک چې دېرش کالو نه دَ جنګ پۀ اور سوځي اؤ چرته چې ټول عمر پۀ ټوپک اؤ توره فېصلې شوي دي - هغه ملک کښې یو کاندید راپاځي اؤ دَ ټاکنو پۀ نتیجه اعتراضونه کوي اؤ بیا پۀ ډېر منظم اؤ پر امنه طریقه یو کمپائن چلوي چې دَ ټولې دنیا توجه اخلي - بیا اولس مشر دومره وسعت قلبي ښکاره کوي چې پۀ دې رضا کېږي چې بیا دَ سره دې ټاکنې وشي اؤ بیا مخالف کاندید پۀ یو جمهوري انداز کښې دَ بائیکاټ فېصله کوي خو دَ سوګند پۀ مراسمو کښې هغۀ ته دَ سوګند پورته کولو نه وروستو اولس مشر دَ افغان ملت دَ سوکالۍ اؤ ګټې لۀ پاره دَ یو ځائے کېدو بلنه ورکوي - دې کښې هېڅ شک نشته چې دا هر څۀ دا ثابتوي چې افغانستان دَ جمهوریت دَ اصولو اؤ دَ کلتور پالنه پۀ ډېر لږ وخت کښې زده کړه اګرچې دَ جنګ نه نفرت دَ دغه کلتور دَ بنیاد وړومبۍ ګټه ده خو دَ دواړو مشرانو حوصله اؤ سیاسي زیرکتیا هم نۀ شي نظر انداز کېدے - اوس افغانستان کښې دَ بې یقینۍ فضا ختمه شوه اؤ دَ سوګند دَ مراسمو نۀ وروستو دَ افغان دولت اصل امتحان شروع شۀ - اولس صرف دَ سپېڅلې دولت دارۍ مسئله نۀ لري بلکې حقیقت دا دے چې درې لسیزې یو ملک دَ جنګ پۀ حال وي نو هلته وړومبۍ ترجیح صرف ښۀ دولت دارۍ نۀ شي کېدې - اصل کار دَ عام اولس دَ ستونزو طرف ته دَ دولت پام دے - پکار دا ده چې یو داسې فعاله اداره جوړه کړې شي چې دَ هغې کار دا وي چې دَ ګرد افغانستان دَ اولس دَ ستونزو تجزیه اؤ ریکارډ وساتي کوم کارونه چې پۀ ځائے دَ سمولو وي اؤ زیاته بودیجه نۀ غواړي، هغه دې پۀ ځائے هوار کړے شي - دولت اؤ دَ وطن پۀ امورو کښې دَ عام وګړي دلچسپي پېدا کولو لۀ پاره مهمه دا ده چې پۀ وړو وړو امورو کښې هغوي شریک شي - سیاست کښې دَ عام اولس دَ ګډون لۀ پاره اولس مشر دَ ولسوالیو پۀ کچ دَ ټاکنو ژمنه هم کړې ده - دا ژمنه چې حتماً عملي شي ځکه چې تر څو دَ دولت پۀ کاروبار کښې عام وګړے شامل نۀ وي تر هغې دَ سپېڅلې دولت دارۍ ، بیا رغونې اؤ دَ ملي نظامي اؤ ادارتي پرمختګ کارونه سر ته نۀ شي رسېدے - دا خبره دې باید یاد وساتلې شي چې اصلاً جمهوریت دَ مجموعي عمومیت نوم دے - دَ یو څو تنو نۀ بغېر کۀ نور ملت دَ ګټې اؤ تاوان دواړو کښې شریک نۀ شي نو هغه جمهوریت پۀ معروفو معنو نۀ شي تسلیمېدے - مونږ دا حقیقت منو چې تېره دوره اؤ بیا لۀ هغې هم وروستو انتقالي دورو کښې دَ دولت دَ فراخ بنسټ پام ساتلے شوے دے - دَ بیا رغونې اؤ دَ ملي سولې پۀ لاره دغه سیاست خپل بریالیتوبونه لري چې انکار ترې نه ممکن نۀ دے - خو دا خبره هم دَ هېرولو نۀ ده چې داسې دولتونه چې دَ مختلف النظریات خلقو مرکب وي خپل مرام ته رسېدو کښې ډېر وخت اخلي ځکه چې دَ دولت دَ اعضاؤ کړنلار داسې صورتونو کښې یوه نۀ وي - ضروري ده چې دَ دولت ټول اعضاء یوه کړنلار ولري اؤ صرف پۀ لویو امورو کښې نا بلکې وړوکي نه وړوکي کار کښې دې هم دَ ټولو اعضاؤ ستراتېژي یوه وي - مونږ پۀ دې خبره قانع یو چې اوس دَ نوي دولت کړنلار عملي کولو دور دے - فراخ بنسټ دولت خپل سیاسي صورتونه لري - دَ افغانستان ننني تصویر دا غوښتنه کوي چې دَ دولت سازۍ پۀ امورو کښې دې زیات نه زیات دَ دې خبرې پام وساتلے شي چې صرف یو مقصد لرونکي خلق ضروري نۀ دي بلکې دَ یوې نظریې خلق راوستل زیات اؤ ډېر زیات ضروري دي - دَ افغانستان اساسي قانون وړومبي باب شپږمه ماده دَ دولت دَ ذمه وارو پۀ لنډو ټکو کښې وضاحت کوي دَ مادې دَ مفهوم مطابق "افغان دولت پۀ دې مکلف دے چې پۀ ټولنیز انصاف، دَ بشري حقونو اؤ انساني توقیر پۀ تحفظ ،دَ جمهوریت پۀ اساس اؤ دَ ملي یووالي پۀ ستن ولاړه یوه سوکاله اؤ مترقي ټولنه جوړه کړي"- دَ کومې ټولنې تصویر چې دَ اساسي قانون پۀ رڼا کښې دَ دولت وظیفه ګرځېدلې ده هغه دَ یو فکر خاوندانو دَ رایو ځائے کېدو نه بغېر څنګه تعبیر بیاموندے شي - مونږ دَ افغانستان اولس مشر محترم حامد کرزي ته دَ زړۀ لۀ اخلاصه مبارکي وایو اؤ طمع ساتو چې دَ افغانستان عظمت اؤ تاریخي حېثیت لۀ پاره به دَ دولت سازۍ اهمه مرحله کښې دا وړاندیزونه یاد وساتلې شي - افغانستان دَ کلهمو پښتنو کور دے - دَ دغه کور سوکالي او ارامي دَ هر پښتون دَ زړۀ اواز اؤ ارمان دے - مونږ دا دعا کوو چې دَ جمهور دَ واکمنۍ دغه دوېم دور دې زمونږ دَ ټولو دغه ارمان پوره کړي -امین یا رب العالمین!!!